# A Diphthong Related Issue in Pashto Script and its Solution

Yousaf Jazab [1]

**Abstract**: Pashto orthography, based on Perso-Arabic script, has a long tradition that is basically phonetic in nature but is deeply rooted in etymology of lexicons especially borrowed from Arabic and Persian. Despite numerous issues related to orthography, it has evolved with the passage of time and to a great extent it did overcome its shortcomings. Nevertheless, its vowel-system still poses problems. In this research article, a diphthong /-i/ representing feminine nouns and imperative for second person plural at word-final position has been discussed in detail. Having the same voice, it is written in two ways in modern Pashto script against which voices raised in different circles times and again. Here, in this paper, light has been thrown on its various manifestations of the diphthong and an attempt has been made to work out its potential solution.

**Keywords**: Diphthong, Orthography, Pashto Script

د پښتو املاء د تاریخ په اوږدو کښې خپل یو روایت لري چې هېڅوک ترې سترګې نۀ شي پټولے هرکله چې زمونږ ژبې د اریایانو ټولګي د ژبو سره تعلق لرلو نو باید لکه د نورو ځینو تربرو ئې ځان له اریایایي لیکدود یا رسم الخط یا ئې هم د دوي هغه خپل کړے وے خو متاسفانه داسې ونشول او نن دا ده د دې کرلې فصل مېوه شوکوو په نورو ټکیو کښې وئیلے شو چې مونږ پښتو له پاره رسم الخط د عربۍ او د فارسۍ خوښ کړو چې نن هم زمونږ په دې اړه شخړې نۀ ختمېږي د دې مطلب هرګز دا نۀ دے چې ګني دا مسئلې یوائې د پښتو لیکدود لري، نه، دا هره هغه ژبه لري چې لیکنۍ بڼې له پاره ئې هم پاسنے سامي رسم الخط غوره کړے دے۔

د پښتنو سامي رسم الخط چې په کښې د عربۍ او فارسۍ لیک نخښو نه استفاده شوې ده له هر نورو غوره ګڼل یو جواز هم لري چې په تېرو وختونو کښې زمونږ عالمان او پوهان په دې عقیده وو چې پښتو ژبه له آره د سامي ژبو سره تعلق لري او پښتانۀ د نسل په حواله بني اسرائیل دي، پر دې سربېره د دوي اسلام په حیث د دین خوښول او د پایلې په توګه د عربۍ ژبې سره د دوي مینه او عقیدت او په تېره تېره هم د دې مینې او عقیدت له مخه په پښتو د دوي

---
[1]Government Postgraduate College, Bannu, Pakistan

ديني ژبې دروند اغېز له هغو عواملو څخه دي چې هېڅکله ترې د منکرېدلو جواز پېدا کولی او پلمه جوړول خو پرېږده چې د پښتنو اکثريت په دې باره کښې سوچ هم نهٔ شي کولے همدغه علت دے چې پښتنو د پښتو له پاره همدغه د عربی او فارسی رسم الخط راټېنګ کړے او هره ورځ ئې د لا ښهٔ کولو او نويو غوښتنو ته سمولو او رغولو هڅې کوي۔

لکه چې مخکښې وليکل شول چې پښتو ليکدود يوه اوږده، زوروره او شانداره سابقه لري او دا املايي روايت په دې خبره دلالت کوي چې پښتانهٔ عالمان چرته هم خپل سکرپټ نه غافله نهٔ دي پاتې شوي، له پير روښانه تر خوشحال خانه په يوه پېړۍ کښې چې په دې حواله کومې تجربې شوې دي هغه که يو طرفته د دغه عبقري ذهنونو په دې اړه علميت ښيي نو په بل لوري مونږ دې ته هڅوي چې بايد داسې قسم مذاکرو، مباحثو، کانفرنسونواو سيمينارونواو په دليل مبني ليکونو ته هرکلے اوئيل شي چې دارنګ زمونږ د موجوده رسم الخط او املاء ستونزې په ښه توګه حل شي او مونږ دا هغه بلندۍ ته ورسوو چې نيمګړتياوې او خامۍ ئې زمونږ د راتلونکيو نسلونو او په خارج کښې د زده کوونکيو د لارې خنډ نشي۔

د پوهانو له درنو او نېکو هيلو او توقعاتو سره سم په خاصه توګه په شلمه پېړۍ کښې زمونږ پلارونو او نيکونو د موجوده ليکدود کمزورۍ ورکولو له پاره ډېرې غونډې او ناستې وکړل او د نتيجې په طور ډېرې ښې فيصلې مخې ته راغلې چې پښتون اولس ورته په ډېر درانهٔ نظر وکتل او وخت سره سره ئې دا بدلونونه تر ډېره حده ورو ورو قبول کړل ولې د دې هرګز دا مطلب نهٔ دے چې ګني زمونږ د املاء نيمګړتياوې محو شوې او دا اوس تکميلي او آئيډيل حالت ته ورسېده او نور کار ته اړتيا نهٔ لري، نه داسې نهٔ ده زمونږ املاء اوس هم ډېرې ستونزې لري چې هوارولو ته سترګې غړوي او که لوي څښتن ته منظوره وه او د لرې او برې پښتونخوا عالمانو او ژبپوهانو خپلو هڅو او کوښښونو ته هم دغسې دوام ورکښلو نو هغه ورځ لرې نهٔ ده چې زمونږ املاء د خپل خوب تعبير ومومي او دا پاتې کمزورۍ هم ترې وباسي او هغه هسک مقام حاصل کړو چې په دې حواله زمونږ هدف دے –

د ننني املاء زياتې شخړې د خپلواکه غږونو (vowel-related دي ځکه چې په عربی او فارسی رسم الخط کښې ليک نخښې يو بل سره نښلول کېږي چې دې ته cursive وېل شي او په نتيجه کښې د ګرافيمونو د ټکيو سر کښې، ميان کښې او اخر کښې شکلونه مخې ته راځي چې ماشومانو له پاره ډېرې شخړې پېدا کوي که د دې ستونزو کم تعلق د بېواکه غږونو سره دے نو زياتره تعلق ئې خپلواکه غږونو سره دے هغه داسې چې ډېرو ځايونو کښې واول د لفظ ميان کښې ځاے نهٔ شي پېدا کولے او د نتيجې په توګه ډېرې ګډوډۍ مخې ته رادرومي کله کله خو د يو اواز له پاره درې درې ليک نخښې هم زېږون وموومي چې مشکل جوړوي، په دې ګډوډيو کښې يوه ګډوډي د فعلي ګرافيم [ئ] او د اسمي (تانيثي) ګرافيم [ی] ده چې هر دواړه د يو ډفتانګي غږ له پاره پکارېږي ولې د دې نه مخکښې چې په دې وغږېږو اول يوه اصولي خبره کوو هغه دا چې پښتو املا ء په اصل کښې يو اساس نهٔ بلکې دوه بنيادونه لري چې دا دي:

- اول: اشتقاقي اساس (Etymological Base)
- دويم: غږيز اساس (Phonetic Base)

اولنے اشتقاقي اساس دا مانا لري چې کوم لفظونه چې له نورو ژبو زمونږ ژبې ته راننوتي دي هغه پښتو ليکدود کښې خپل اصليت برقراره ساتي لکه چې د باره ګلی اولنی فيصله څرګندوي:

> هغه کلمې چې د عربی او فارسی نه پښتو ته راغلي دي او معنٰی ئې هم هغه ساتلې ده ـ هغه به په خپل اصل شکل کښې ليکلے[2] شي ـ لکه قميص، قيصه[3]، ضعيف وغيره ـ[1, p33]

او د دې علت ئې هم جوخت وريسې په دې ټکيو کښې ښودلے دے:

> پښتو ژبه کښې ډېر داسې ټکي دي چې د عربی او فارسی نه پښتو ته راغلي دي او پښتوکښې هم په هغه معنٰی استعمالېږي ـ کومه چې ئې په دغه ژبو کښې ده ـ د داسې قسمه ټولو ټکيو، کلمو په حقله دا فېصله شوې ده چې د ديو په املا کښې به بدلون نۀ شي راوستے، که هرڅو د داسې ټکيو تلفظ کله کله ګران هم شي ـ ولې يو خو دا ټکي د خپلې اصلي املا له لحاظه اوس پښتو کښې مانوس شوي دي او د خالصې معنې راز هم په کښې دے ـ[1, p33]

اګرکه د باره ګلی په دې بره حوالو کښې د اشتقاق لفظ نۀ دے راوړے شوے ولې مطلب ئې هم دا راووځي البته دومره ده چې د دې نه ثابتېږي چې پښتو اشتقاقي صرف د فارسی او عربی په حواله ده[4] ترڅو چې د املاء د غږيز اساس تعلق دے نو دا ډېر زيات دے او د پښتو املاء په زياته برخه حاوي دے او د پښتو عالمانو په نژدې وختونو کښې زياتې تجربې هم په دې حصه کښې کړې دي او اوس هم زيات کار په دې برخه کښې پاتې دے –

اوس راځو اصل ستونزې په لوري يعني فعلي ګرافيم [ئ] او اسمي (تانيثي) ګرافيم [ی] چې هر دواړه د يو ډفتانګي غږ له پاره پکارېږي د دې اجمالي خبرې تفصيل دا دے چې دا

---

[2]دا جمله بايد مونث فعل واخلي او داسې وليکل شي: هغه به په خپل اصل شکل کښې ليکلې شي – په دې هکله د زيات تفصيل لپاره زما دا ليکنه هم ولولئ: https://web.facebook.com/yousaf.jazab/posts/2773570929435136

[3]قيصه/ کښې /ي/ ليکل د باره ګلی د اولنی فيصلې خلاف دي

[4]مګر لږ وروستو همدغه کتاب کښې ليکلي شوي دي چې دا اشتقاق صرف تر دې دوو ژبو محدود نۀ دے بلکې په دې کښې نورې ژبې هم شاملې دي:

> په دې خبره د کافي غور و فکر نه پس دا فېصله شوې ده چې کوم ټکي د عربی ، فارسی يا د نورو ژبو نه پښتو ته راغلي دي او هم په هغه معنو کښې استعمالېږي ـ کومې معنې چې ئې په خپلو اصلي ژبو کښې دي هغه به په املا کښې هم هغه شان ليکلے کېږ.[1, p5]




شکل 1.14: شکل ۱

ډفتانګي غږ چې له دوو خپلواکه غږونو څخه رغښت مومي ولې آواز لکه د يو i ښکاروي او په لاتيني ليکدود کښې ورپاره /i/ استعمالېږي، ډفتانګ هم يو قسم واول وي چې په کښې تکلمي اندامونه دومره په واضحه توګه وخوځي چې داسې معلومه شي لکه چې د دوو اوازونو ادائيګي وشي ولې په اصل کښې دا يو آواز يا يو فونيم وي چې د دوو فونيمونو نه رغونه مومي د دې دوه قسمونه دي يعني وچتېدونکي او غورځېدونکي ډفتانګونه، په دې ادائيګۍ کښې که په اوله کښې خولهٔ زياته وازه وي.

او بيا نسبتا بنده وي نو دا وچتېدونکے ډفتانګ دے او که د دې په عکس نو دا غورځېدونکے ډفتانګ دے [2] اوس چې ترڅو د متعلقه ډفتانګ تعلق دے نو دا يو وچتېدونکے ډفتانګ دے (وګورئ شکل:1.14) چې د ځاې ځايګي په حواله (distribution) د لفظونو په ميان او اخر کښې راځي، چونکه دا آواز هم په فعلونو کښې راځي او هم په تانيثي اسمونو کښې نو زمونږ املاء پوهانو هم د دې يو آواز له پاره دوه ليک نخښې (Graphemes) مقررې کړې دي هرکله چې د فعل په اخر کښې راشي نو ورپاره [ئ] استعمالوو او نوم ورته فعلي ئې اخلو او کله چې د اسم په اخر کښې راشي نو ورپاره [ی] استعمالوو او نوم ورته اسمي (تانيثي) ئې اخلو چې د غږيزې املاء د اصولو سره هېڅ سمون نهٔ خوري، په دې سلسله کښې د حبيب ا لله تږي رائې په لوستلو ارزي:

> په مروج ليکدود کښې /راغلئ/ د فارسی د آمديد په مانا، په بله بڼه يعني /راغلی/ غلط ګڼل کېږي لکه څرنګه چې /خولی/ په بله بڼه يعني /خولئ/ ليکل د فيصلو سره مخالفه او غلطه ده، که مونږ د /خولی/ او /راغلئ/ اشکال د فونيم پوهنې لّه مخې تجزيه او بېل بېل ئې تشخيص کړو په څرګند ډول سره ليدلے شو چې د دغو دوو اشکالو د پايې دوه دوه فونيمونه په ترتيب سره رټ يو شے دي يعني هغه دوه فونيمونه چې د /خولی/ د شکل په پايې کښې ليدل کېږي عين داسې يو ترکيب يا ډفتانګ جوړوي لکه د /راغلئ/ په شکل کښې نو له دې لامله ئې په بېلو بېلو توريو يعني [ئ] او [ی] ليکل مورد نهٔ لري -[3, p1]

او ورپسې هغه سبب بيانوي چې ډېر شهرت او ارزښت ئې موندلے دے څکه چې يو داسې

دليل لري چې ځوابول ئې خورا مشکل دي، وګورئ د حبيب الله تږي خپل لفظونه:

> اما کله که ئې ځوک په دې منطق ليکي (او واقعي دا حکم په دې منطق بنا دے) چې د دوي په اصطلاح اسمي او فعلي اشکال سره جلا کړي دا بيا يوه بله لويه سهوی ده چې زمونږ د ژبې په عنعنوي[5] مطالعاتو کښې ئې مثالونه ډېر زيات دي، دلته دوي دې خبرې ته نشي ملتفت کېدلے چې ليک مخ په شا بيايي يعني الفبايي ليک چې د مروجو ليکونو ډېر منکشف شکل دے په ايډيوګرامي ليک (Ideographic Writing) يا د بلوم فيلډ په اصطلاح لوګرامي ليک (Logographic Writing) بدلوي -[3, p1]

هرکله چې د اروانښاد تږي په خبره دلته په کوزه پښتونخوا کښې ځوک نۀ پوهېدل نو ورته هغه پذيرايي حاصله نۀ شوه چې د دوي حق وۀ ولې په روانه پېړۍ کښې وخت په وخت د دوي په حق کښې درانۀ اوازونه جګېدل[6] ولې په کوزه پښتونخوا کښې تر هرچا له مخه د دې ګډوډيو پرخلاف اول غږ ما پورته کړو او په سوشل ميډيا مې د محترم مشتاق مجروح يوسفزي صاحب د کتاب ''ساهو پښتو،، په يوه تېروتنه په ۱۹/۱۲/۲۰۲۰د يوه نوې احتراع تر عنوان لاتدې وليکل چې هغه هم متاسفانه هم د دې يېکانو متعلق وه:

> د پښتو املاء [ي] ګاني چې ځومره په غېرصوتياتي بنيادونو ولاړې دي شايد بل ځاے ئې کم مثال وموندل شي په هرحال اوس په کښې نوې احتراع مخې ته راغله هغه داسې چې فعل حال واحد مذکر د پاره به "تۀ ځے" او د مؤنث د پاره به "تۀ ځې" ليکو ( ساهو پښتو، ص:۳۰۴) حالانکې په دې يګانو کښې ډفتانګ /ے/ او واول /ې/ چې په رومن سکرپټ کښې به ئې په ترتيب سره په ia او e ليکو، فونېټک دي لهذا درستې دي، اولنے ډفتانګ عموما د مذکرو اسمونو او د ماضيperfective فعلونو کښې راځي (چې مذکر فاعل لري) لکه:
>
> اسمونه: سړے، سپرلے وغېره
>
> فعلونه: سړے راغلے دے، سپرلے تېر شوے دے وغېره
>
> د دې په مقابله کښې واول /ې/ په مؤنثو جمع اسمونو کښې راځي مثلا لمبې، سجدې وغېره (واحد مؤنث اسمونه چې په /ه/ تمامېږي د هغو مغيره حالت کښې هم راځي)، فعلي حالت کښې داسې راځي: تۀ راځې (د جنس د پاره تغير نۀ مومي)؛ ښځه راغلې ده؛ حميده تلې وه -

---

[5]د دې معنی /روايتي/ ده

[6]ښاغلي شين قاف پېښوري صاحب په خپل ګرامر د پښتو ګرامر (۲۰۱۰، ص: ۵۲) کښې هر دواړو يېکانو لپاره يوه د کش والا يې /ی/ راوړې ده

دا خو د حقيقي موډ (actual mood) مثالونه وو، اوس د غېرحقيقي (subjuntive or irrealis mood) ځو مثالونه وګورئ : که تهٔ راغلے وے (مذکر ته مخاطبه ده)؛که تهٔ راغلې وے (مؤنث ته مخاطبه ده)

مشتاق مجروح يوسفزي صاحب دا دواړه موډدنه سره ګډوډ کړي دي او په يوه داسې نتيجه رسېدلے دے چې صوتي املاء سره هېڅ علاقه نهٔ لري او د خيال نګارۍ بهترينه نمونه ده هم د دې غلط فهمۍ له کبله د ماضي بعيد ضمير، د جمع مخاطب د پاره، "وي" (چې زما په اند "وئ" دے) ئې "وے" کړے دے (ساهو پښتو، ص:٥٦١)؛ او "تهٔ ورته زاري کوے (؟) خو په زارۍ کار نهٔ کېږي" (هم دغه کتاب، ص: ٣١٥)، وګورئ يوسفزے صاحب realis او irrealis موډ کنفيوز کړے دے.[7]

برني پېراګراف کښې د پښتو املاء د [ي] ګانو په هکله ما دعوی کړې ده چې دا په غېرصوتياتي بنيادونو ولاړې دي او د دې نه مراد هم هغه د حبيب الله تړي صاحب خبرې ته اشاره ده چې دا مونږ د پښتو املاء د خيال نګارۍ په لور بيايي چې د صوتي املاء سره هېڅ علاقه نهٔ لري، زما په دې پوسټ د يوې مکالمې او مباحثې فضا برابره شوه او يو ملګري سيدالامين احسن دا لاندېني سوالونه چې ځينې ئې هغه دا دي، پورته کړل:

د بسياره احترام سره، زهٔ په دې نهٔ پوهېږم چې تاسو څو واره په املا د هغوي [د مشتاق مجروح] د کړي کار تنقيدي جائزه واخسته،شايد تاسو ورته په زيات سائنسي نظر ګورئ خو نهٔ د هغوي ځواب راځي څنګه چې هغه حق لري او نهٔ تاسو اکتفا کوئ څنګه چې تاسو حق لرئ، سوال دا دے چې ايا د باړه ګلې فېصلې د لسانياتو د مروجه اصولوخلاف وې؟؛ د دغه فېصلو په وخت کښې د ټولو پښتنو نمائندګي نهٔ وه؟؛ پښتو لا تراوسه صحيح املا نهٔ لري؟[8]

د بره ذکر شوي کس په ځواب کښې ما خپل متعلقه معروضات چې ځينې ئې هغه دا دي، داسې پېښ کړل:
دويم: د پښتو د املاء مسئله دا ده چې دا په يو وخت اشتقاقي او صوتياتي ده؛ دريم: او د باړه ګلې املاء ځاے په ځاے د لسانياتو اصولو سره ډغره وهي ؛ څلورم: د املاء مسئلې، ستاسو څهٔ خيال دے، فقط په نمائندګۍ حل کېږي که مېرټ ورته پکار دے؟؛ پنځم: که املاء درسته ده نو د مشتاق صاحب د کتاب جواز څهٔ دے؟ ۔[9]
او هم په دغه پوسټ غيرت غلجي صاحب لاندېنے کمنټ وکړو چې زما د زړهٔ درزا وه:

[7] https://web.facebook.com/yousaf.jazab/posts/1331203910051185
[8] Ibid. See Comments on same thread
[9] Ibid. See comments on same thread.

> نهٔ د باره ګلی د سیمینار او نهٔ هم د پښتو توولني پریکړي سل په سله کښي سمي دي، پښتو توولني خو به علمي او ژبني مسائل د رایو په اکثریت حلول،کله به د ختیځ تله درنه شوه او کله د لوېدیځ، باره ګلی او [د] پښتو توولني پرېکړو کښي املايي او لهجوي بحثونه سره ګډ شوي دي او نوم ئې لیکدودي توحید پرې ایښے دے.[10]

او یو څو ورځي وروسته په ۲۲/۱۲/۲۰۱۶ د ''سپما،، ترعنوان لاندې غېرت غلجي صاحب یو ځل بیا په فېس بک پوسټ وکړو چې هم هغه د اروابناد تري د غږ ازانګي وي:

> یو فونیم او دوه ګرافیمه؟؛ د /ئ/ او د /ی/ ګرافیمونه چې د یوهٔ غبرګ ږغ Diphthong نخښې دي هسې بې ځایه د یوهٔ فونیم له پاره دوه ګرافیمونه رادود شوي دي، راځی د /ئ/ له سره تېر شو او هر فونیم تر وسي وسي پوري د یوهٔ ګرافیم په واسطه وښیو؛ د "ځئ "، "خولی "، "راغلئ" او "نړی" وییونه که د فونیم پوهنې له مخې تجزیه کړو او بېل بېل فونیمونه ئې تشخیص کړو دا به راته څرګنده شي چې د دغو اشکالو د پاي دوه ږغونه بالکل سره یو شے دي او پر یوهٔ دفتانګ پاي ته رسېدلي دي نو ضرور نهٔ ده چې په بېلو بېلو ګرافیمونو وښودل شي،که څوک دا یو شے ږغونه په دې لاسوند، چې اسمي او فعلي اشکال سره جلا کوي، د دوو ګرافیمونو په واسطه ښیي، سهوه کوي او په لوي لاس د ږغ پر ځاے مانا او د فونیمونو پر ځاے وییونه د لیک په واسطه د ښوولو کوښښ کوي -[11]

په دې پس منظر کښې د باره ګلی ورکشاپ کښې ماته موقع په لاس راغله چې په دې سلسله کښې خپل دلائل ناستو عالمانو او د پښتو خواخوږو سره شریک کړم لهذا ما هم هغه خبره تکرار کړه چې د یو فونیم له پاره د دوو ګرافیمونو تعین هېڅ کله د صوتي املاء سره سم نهٔ دے په دې هکله زما دلیل دا وهٔ چې هرکله بنیادي غږ یو دے نو دا که په فعل کښې وي که په اسم کښې وي او که په توصیفي نوم کښې ولې لیکل به یو قسم شي په نورو ټکیو کښې د دې له پاره به یوه لیک نخښه راوړل شي، زما په ځواب کښې ډاکټر حنیف خلیل ووئیل چې په پېښوری لهجه کښې د دې غږ په فعلي او اسمي حالت کښې فرق دے ما ورځخه دلیل وغوښتو چې تاسو دا دعوی د کومې څېړنې په بنیاد کوئ چې دوي سره ئې ځواب نهٔ وهٔ[12]، په دې موقع لما سره ډاکټر پروېز مهجور هم هم غږے وهٔ البته دوي په دې اند وهٔ چې فعلي او اسمي (تانیثي) یېګانو زمونږ له پاره اساني پیدا کړې ده وروسته دا فیصله وشوه چې دا علمي بحث دې لوئې جرګې ته یوړل شي – [4, p48]

---

[10] Ibid. See comments on same thread https://www.facebook.com/permalink.php?story_fbid=2388468598864 98&id=10001283

[12] په دې موقع نورې هم ډېرې خبرې شوې وې چې د ورکشاپ ویډیو ریکارډنګ ئې ګواه دے

اوس اوس ډاکټر عبدالله جان عابد په فېس بک په یو پوسټ کمنټ کړے وۀ چې زما له پاره په کښې د فکري او لساني تغذيې سامان وۀ اګر که د دوي رائې سره زۀ په کلي توګه متفق نۀ وم، عابد صاحب د مطالعې ښتن دے او ورسره ورسره د یوې شعبې، علامه اقبال اوپن یونیورسټی د پاکستاني ژبو رئیس هم دے ځکه نو باید په سوشل میډیا د ذمه وارۍ مظاهره وکړي هسې نۀ خداے مه کړه پښتو نوي املا ته په لاشعوري توګه تاوان ورسوي چې دوي او د دوي شعبه ئې په پلویانو کښې دي، د دوي د کمنټ متعلقه برخه داسې وه:

> میں عرصہ بیس سال سے زبانوں کے شعبے سے وابستہ ہوں اور اس طویل عرصے میں، مجھے وطن عزیز اور دنیا کی مختلف زبانوں کے الف بائي نظام کے مطالعے کے مختلف مواقع میسر آئے۔ان مطالعات کے دوران میں ، میں نے کہیں اور کسی جگہ بھی یہ نہیں دیکھا کہ ان زبانوں کے الف با(Alphabets) میں فعل، تذکیر وتانیث اور واحد جمع کے لیے علامت/علامات/حرف/حروف وضع کیے گئے ہوں۔اس لیے اس حوالے سے پشتو (میري محدود معلومات کے مطابق) دنیا کی واحد زبان ہے کہ جس کے الف با میں یہ بدعت کی گئ ہے۔[13]

نو اول دا خبره باید سپينه کړو چې دلته ښاغلے ډاکټر صاحب دا تاثر ورکول غواړي چې ګني برنے تحقیق د دوي د شلو کالو د زيار ثمره ده چې هرګز داسې نۀ ده لکه چې بره ورکړي شوي دلائل او براهين ثابتوي چې په نوي املاء کښې په ذکر شوي ډفتانګ دا نيوکه د اروابناد ترې نه شروع شوې وه او ما دلته ترويج ورکړو ځکه نو د ډاکټر صاحب د شلو کالو خبره هسې داستان ته د زينت ورکولو مترادف ده چې هېڅ علمي اساس او بنياد نۀ لري[14]۔

---

[13] https://web.facebook.com/photo/?fbid=1166472690355264&set=a.358883577780850

[14] په دې پاسني اقتباس کښې ښاغلي ډاکټر دا درې خبرې کړې دي:

اول: د /فعل/ لپاره علامت یا حرف
دويم: د تذکیر او تانیث لپاره علامت یا حرف
دريم: او واحد/ جمع لپاره حرف یا علامت

نو ترڅو چې د پښتو په نوي املاء کښې د فعل له پاره د علامت یا حرف خبره ده نو دلته د فعل له پاره مطلق علامت نشته چې هغه دې په هر حال کښې د فعل برخه وګرځي بلکه خبره فقط دومره ده چې دلته د یو ډفتانګ یا فعلي مورفيم [ئ] د شتون خبره شوې ده او هغه هم يوائې په امريه جمع حالت کښې نو داسې حالت کښې لکه چې بره ذکر وشو دې ته د فعلي مورفيم [ئ] نوم ورکول سم نۀ ښکاري

دويم: شايد د تذکیر او تانیث لپاره علامت یا حرف نه د دوي مراد [ے] او [ی] دے چې هر دواړه ډفتانګونه دي او خالص واول نۀ دي نو دلته هم دغه دواړه ډفتانګونه په ډېره محدوده پيمانه په ترتيب سره د تذکير او تانيث لپاره راوړل کېږي په نورو تکيو کښې دا ډفتانګونه د تذکير او تانيث لپاره راوړل یو اتفاقي امر (Coincidence) دے ګني /رنګ/، /اسمان/، /مور/ او /پلار/ او داسې نورو ډېرو نومونو کښې د تانيث او تذکير کومې نخښې دي چې د پښتو املا په نازکه ملا بار شوې دي؟

دريم: په پښتو املاء کښې د واحد یا جمع نوم لپاره د علامتونو یا حرفونو هېڅ نشاندهي نشته زۀ حېران يم چې ډاکټر صاحب ته داسې کوم علامت یا حرف معلوم دے چې هغه د یو نوم یا د ډېرو نومونو لپاره زموږ عالمانو مقرر کړے دے؟

اوس په اخر کښې به دا ووايو چې اسمي او فعلي يېګاني ګوشي ګوشي ليکل چې زمونږ عالمان ئې په حق کښې دي يو امکاني جواز هم شته هغه داسې چې چونکه په نوي املاء کښې د لهجوي اختلافاتو لرې کولو د پاره هڅې شوې دي او اکثر خلق دې ته په درانۀ نظر ګوري ځکه نو ترڅو چې د دې ډفتانګ د نومونو او کړونو/فعلونو په اخر کښې د راتللو خبره ده نو په اولنيو کښې په لهجوي سطح دا تغيرات کم دي ولې په دويمو کښې دا زښت ډېر دي، دا ډفتانګ چې هرکله د نوم په اخر کښې راشي نو وېرې ايشنز(variations) دومره زيات نۀ وي او زما د معلوماتو ترمخه صرف په وزيرئ (اتمانزئ) او بنوڅۍ لهجو کښې فرق رادرومي چې مونږ ئې په اسانۍ سره له نظره غورځولے شو مګر ترڅو چې د کړونو/فعلونو په اخر کښې د دې ډفتانګ د راتللو خبره ده نو د پورته ذکر شويو سره د دوه نورې قبيلې هم شاملې شي چې هغه د خټکو او د مروتو قبيلې دي نو دلته په تلفظ کښې د اختلاف دائره سترہ شي او مونږ ته دا موقع راکوي چې هر دواړه دې له يوې بلې جلا کړل شي دلته بايد دا وضاحت هم وشي چې په حقيقت کښې دا اختلاف د کړ يا د فعل په مادې (stem) کښې نۀ وي بلکې د کړ يا فعل مادې سره نښتي متصل ضمير (attached verbal pronoun)[15] کښې وي[16]، د اتصالي ضمير دا اختلاف په شکل: 2.14 کښې ښۀ جوت دے چې هلته د کړ يا فعل ماده /خور/ دے او هېڅ تغير په کښې نۀ راځي البته په امريه جمع حالت کښې دا اتصالي ضمير په جنرل پښتو کښې [-ئ = -i] دے ولې په مروتواله کښې [-و=-o]، په وزيرئ کښې [-ئ/-ي=-e/-i]، په بنوڅۍ کښې [-ييي=-eyi] او په خټکواله کښې [-وي=-io] دے [5, pp218-222]

يعني په مروتواله کښې چې د فعل ماده /خور/ چې اتصالي ضمير سره يو ځاے شي نو /خورو/ [orwx]، په وزيرئ کښې /خورئ/ يا /خورې/ [erwx/irwx]، په بنوڅۍ کښې /خورييي/ [eyirwx] او په خټکواله کښې /خوروي/ [iorwx] شي او دا عمل په دې سيمه کښې ډېر باقاعده دے ځکه نو که مونږ د پښتو د کرلانيو ګړدودونو د اتصالي ضمير په هکله دا ښکلا لازما په پښتو املاء کښې ځايول غواړو نو بې د دې نه بله لار نشته چې د فعل په آخر کښې [ئ] د نوم په اخر کښې [ی] نه جلا کړو –

د دې جواز پيدا کولو نه پس يو ځل بيا سپيناوے کول غواړو چې دا دواړه ډفتانګونه په اصل کښې يو دي او ښه به دا وي چې هر دواړه په يو شمار کړل شي، زما په ذهن کښې د دې دوه وجوهات دي چې په دې ډول دي:

- اول: که لږ ساعت د پاره مونږ فرض کړو چې د دې دواړو يېګانو نوعيت بېل بېل هم وي او هر دواړه په جدا جدا لارې مزل کوي نو بيا هم د ګړدي کوزې پښتونخوا په مقابله کښې د مروتو، وزيرو، بنوڅيو او خټکو ابادي دومره نۀ ده چې د دوي په رعايت کولو دې نور

---

[15] ځينې عالمان ورته ضميرمنفصل هم وايي

[16] ځکه هم ورته د فعلي ئې نوم ورکول نۀ دي پکار




شکل 2.14:  شکل ۲

پښتانۀ د املاء په حواله دومره لوي قيمت ادا کړي او که چرته د افغانستان پښتانۀ هم په نظر کښې ونيول شي نو بيا خو د جلا جلا يېګانو جواز نور هم کمېږي

- دويم: دا ډفتانګ د نوم په اخر کښې هم په هغه لاره روان دے په کومه لار چې د کړ په اخر کښې مزل کوي سره د دومره تفاوت چې په اولني ذکر شوي صورت (ډفتانګ د نوم په اخر) کښې تغيرات د پښتنو په څلورو ټبرونو کښې دي او په دويم ذکر شوي صورت (ډفتانګ د فعل په اخر)کښې تغيرات د پښتنو په دوو ټبرونو يعني په وزيرو او بنوڅيو کښې دي او په زړۀ پورې خبره دا ده چې د اوښتنونو او بدلونونو نوعيت هم يو شان دے په نورو ټکيو کښې دا ډفتانګ په اسمونو او فعلونوکښې هم د وزيرو او بنوڅيو ترحده په ترتيب سره هم هغه [-□i/-e] او[iye-] دے د ساري په توګه د /مړی/ مثال وګورئ چې ځينې وزير ئې /مړی/ تلفظ کوي او ځينې ئې /مړې/ او بنوڅي ئې /مړيئې/ ادا کوي –

# Bibliography


[1] Said Taqwim Ul Haq Kaka Khel, Rajwali Shah Khattak, Pashto Liklar, Pashto Academy, University of Peshawar, 2011, 2nd edition

[2] Hadumod Bussmann, Dictionary of Language and Linguistics, London & New York, 1998

[3] Habibullah Tege, Nawe Zabpohana au Zabani Masail, Danish Kitabtun, Kabul, 2010, 2nd edition

[4] Nasr Ullah Wazir, Da Pakhto Likdod dwa Wraznai Maraca, Pashto Academy, Peshawar University, 2018

[5] Yousaf Khan Jazab, An Ethno-linguistic Study of the Karalnri Varieties of Pashto, Pashto Academy, Peshawar University, 2017, ISBN: 978-969-418-100-4